نتایج این تحقیق نشان می‌دهد که حرفه‌های پر درآمد مانند: خیاطی، ترمیم موبایل، نجاری، فلزکاری و ترمیم موتر، سهم بسزایی در بهبود وضعیت اقتصادی و کاهش نرخ بی‌کاری در کشور داشته اند. این مشاغل در مناطق محلی و ولایات با تقاضای بالایی رو به رو بوده و توانسته اند نیازهای متنوع بازار را بر آورده کنند.

یکی از یافته‌های مهم تحقیق این است که عوامل مختلف مانند: تطابق




## ضرورت کارکنان و کارگران تشبثات به آموزش حرفه

گراف بالا ضرورت آموزش حرفه‌ای را برای کارکنان و کارگران در عرصه‌های مختلف نشان می‌دهد. بلندترین ستون مربوط به آموزش کار با کمپیوتر است که حدود ۳۰ در صد را تشکیل می‌دهد و اهمیت استفاده از تکنالوژی و دیجیتالی‌شدن در محیط‌های کاری را برجسته می‌سازد. پس از آن آموزش‌های در مسلک خود هجده درصد را در بر می‌گیرند و بیانگر اهمیت آموزش‌های مسلکی می‌باشند. بعد از آموزش در مسلک؛ آموزش‌های خیاطی و ترمیم موتر ، وسایل برقی، مبایل و کمپیوتر بدلیل پر درآمد بودن این حرفه‌ها ضروری پنداشته می‌شوند. سایر آموزش‌ها سهم کمتری دارند اما برای رشد و توسعهٔ مهارت‌های شغلی هم‌چنان ضروری اند. این تحلیل تأکید می‌کند که سرمایه‌گذاری روی آموزش‌های دیجیتالی و تخنیکی می‌تواند مؤثریت و بهره وری کارکنان را افزایش دهد.

## نقش حیاتی تشبثات محلی

تشبثات محلی به عنوان ستون اصلی اقتصاد افغانستان تأثیر قابل توجهی بر کاهش بیکاری، تقویت بازارهای داخلی و بهبود وضعیت اقتصادی ایفا می‌کنند. این تشبثات به ویژه در مناطق دور افتاده کشور زمینه‌ای برای توانمند سازی اقتصادی و اجتماعی فراهم می‌آورند.

حرفه‌ها با نیازهای محلی، دسترسی به منابع اولیه، و وجود مهارت‌های لازم، نقش تعیین‌کننده‌ای در موفقیت این مشاغل داشته اند. در عین حال، کمبود نیروی کار ماهر و مسلکی و هم‌چنین محدودیت زیر ساخت‌ها، از چالش‌های عمده‌ای هستند که بهره وری این حرفه‌ها را کاهش داده اند.

هم‌چنین، این تحقیق نشان داده که حرفه‌های مذکور توانایی ایجاد فرصت‌های شغلی پایدار را دارند و می‌توانند به عنوان ابزاری مؤثر برای کاهش فقر و بهبود معیشت خانوارها عمل کنند. با این حال، برای بهره برداری کامل از این پتانسیل‌ها، نیازمند سرمایه‌گذاری در بخش‌های کلیدی مانند: آموزش، بازاریابی، و زیر ساخت‌ها هستیم.

از سوی دیگر، نقش حمایت‌های دولتی در توسعهٔ حرفه‌های پر درآمد بسیار برجسته است. بدون تدوین پالیسی‌های مناسب و حمایت‌های مالی، بسیاری از این حرفه‌ها ممکن است در برابر مشکلات مانند: نوسانات قیمتی و رقابت ناسالم آسیب‌پذیر باشند. این تحقیق هم‌چنین نشان داد که همکاری میان دولت، نهادهای خصوصی، و سازمان‌های بین‌المللی می‌تواند زمینه ساز توسعهٔ پایدار این حرفه‌ها باشد.

در نهایت، این تحقیق تأکید می‌کند که برای دستیابی به رشد اقتصادی پایدار و کاهش بیکاری، لازم است که حرفه‌های پر درآمد با استفاده از فناوری‌های نوین تقویت شوند و برنامه ریزی‌های راهبردی برای رفع موانع و استفاده بهینه از فرصت‌ها صورت گیرد.

**چالش‌های کلیدی**

یافته‌های این گزارش نشان می‌دهد که تشبثات محلی با مشکلات متعددی از جمله محدودیت‌های زیر ساختی مانند: کمبود برق پایدار، هزینه‌های بالای مالیاتی، کمبود مکان‌های مناسب برای فعالیت‌ها و عدم دسترسی به منابع مالی مناسب مواجه هستند.

**چالش صادرات**

محدودیت دسترسی به بازارهای بزرگ‌تر و مشکلات در فرا یندهای صادرات محصولات تولیدی از دیگر موانع توسعه این تشبثات محسوب می‌شود.

نقش محدود دولت سهم ناچیز تشبثات دولتی ۰,۲ درصد و ترکیب غالب تشبثات خصوصی ۹۶,۸ درصد نشان می‌دهد که اقتصاد افغانستان به شدت به بخش خصوصی وابسته است. این امر نیاز به تقویت همکاری‌های دولتی-خصوصی را برجسته می کند.

**مراکز آموزش‌های فنی و حرفوی:**

بر اساس نتایج این تحقیق ۷۱ مرکز آموزش فنی و حرفه‌ای در ۲۵ ولایت فعالیت دارند در حالی که فراه و نورستان فاقد این مراکز هستند. در سال جاری ٤۳ حرفۀ مختلف در این مراکز آموزش داده می‌شود و ۳۷ رشته را در سال آینده برای تدریس مد نظر دارند. در میان این رشته‌ها ۷ رشته‌ای جدید شامل مربا سازی، ساجق‌سازی، بوت‌سازی، ساخت ظروف چوبی، حلبی‌سازی، ریکشا سازی و لحاف دوزی به برنامه‌های آموزشی اضافه می‌شوند.

تحلیل داده‌های تحقیق نشان دهنده موضوعات ذیل می باشد:

۱. توزیع جغرافیایی نابرابر مراکز آموزشی: گزارش نشان می‌دهد که در برخی ولایات مانند :نورستان و فراه هیچ مرکز آموزش فنی و حرفه‌ای وجود ندارد، در حالی که ولایاتی مانند: بدخشان و بغلان دارای طیف گسترده‌ای از مهارت‌ها و رشته‌های آموزشی هستند. این نابرابری جغرافیایی باعث شده تا جوانان بسیاری از مناطق دسترسی به آموزش‌های مهارتی نداشته باشند.

۲. کمبود منابع و تجهیزات: ضعف در زیر ساخت‌های مراکز آموزشی، کمبود تجهیزات تخصصی، و نبود حمایت مالی کافی از چالش‌های




اساسی این مراکز است. این امر باعث کاهش کیفیت آموزش‌ها و عدم توانایی مراکز در تربیت نیروی کار ماهر می‌شود.

۳. حمایت پس از فراغت: ۷۷ در صد مراکز به نحوی از فارغان حمایت می‌کنند که شامل توزیع ابزار کار، معرفی به بازار کار و ارائه کمک‌های مالی است. در مقابل ۲۱ در صد از مراکز هیچ‌گونه حمایتی پس از فراغت ارائه نمی‌دهند و متباقی پاسخ ارائه ننموده اند.

٤. پاسخ‌گویی سیستم آموزش‌های فنی و حرفوی به بازارکار: حرفه‌های ارائه شده در این مراکز با نیازهای واقعی بازار کار هم‌خوانی ندارند، که باعث کاهش اشتغال پذیری فارغ‌التحصیلان می‌شود.

٥. چالش‌های جذب شاگردان: شرایط سخت‌گیرانه برای پذیرش در برخی مراکز مانند: محدودیت سنی و وضعیت اقتصادی خاص، مانع از حضور بسیاری از جوانان علاقه مند در دوره‌های آموزشی شده است.

٦. مهارت‌های مورد نیاز سکتورهای خصوصی که مراکز آموزش‌های فنی و حرفه‌ای قادر به ارائه آنها نیستند عبارت اند از: دریوری، کار معدن، حکاکی، معماری، نجاری، شبکه‌های نرم‌افزار کمپیوتر، ویرینگ کاری موتر، ترمیم انجن، حلبی سازی، مهارت‌های زبانی و ترمیم کمپیوتر می‌باشند.

**فرصت های شغلی پر درآمد برای جوانان**

گراف نشان‌دهندهٔ فرصت‌های شغلی پر درآمد برای جوانان بر اساس درصد است. با تحلیل داده‌ها، می‌توان به نتایج زیر رسید:

تجارت ۳۵ فیصد با بی‌شترین سهم به‌عنوان پر درآمد ترین حوزه شغلی برای جوانان شناخته می‌شود. سرمایه‌گذاری در آموزش مهارت‌های تجاری و کار آفرینی می‌تواند این بخش را تقویت کند.

زرگری و صرافی هر کدام ۱۱ فیصد این حوزه‌ها از دیگر فرصت‌های پر درآمد محسوب می‌شوند و نیازمند مهارت‌های تخصصی و اعتماد سازی هستند. ایجاد کارگاه‌های آموزشی و تسهیل دسترسی به بازارهای مرتبط ضروری است.

ترمیم موبایل ۸ فیصد با توجه به رشد فناوری و نیاز روز افزون به خدمات تعمیر، این حوزه یک فرصت شغلی پایدار و در حال رشد است. آموزش تخصصی در این زمینه می‌تواند جوانان را به درآمدزایی بالای برساند.

وظایف در مؤسسات ٥,٤ فیصد مشاغل سازمانی در مؤسسات از جمله گزینه‌های مناسب برای اشتغال جوانان هستند. تقویت مهارت‌های اداری و توسعهٔ فرصت‌های مرتبط می‌تواند این بخش را گسترش دهد.

خیاطی ٥,٢ فیصد این حوزه به عنوان یکی از فرصت‌های متوسط شغلی پر درآمد برای جوانان شناخته می‌شود. با ارائه آموزش‌های فنی و دسترسی به مواد اولیه، می‌توان آن را بهبود بخشید.

وظایف دولتی ٤,٨ فیصد مشاغل دولتی نیز جایگاه مهمی در این گراف دارند و هم‌چنان یکی از گزینه‌های مورد علاقه جوانان هستند. توسعهٔ این بخش نیازمند افزایش ظرفیت استخدامی و بهبود شرایط کاری است.

فرصت‌های کمتر پر درآمد: فعالیت‌هایی مانند: ترمیم موتر ۳,٦ درصد، انجینری برق ۲,۸ درصد، زراعت ومالداری ۲ درصد، ترمیم کمپیوتر ۱,۸ درصد، نلدوانی ۱ درصد و اما بخش موبل و فرنیچر، نجاری، انجینری، بازاریابی، موتر فروشی، فلزکاری، نجاری PVC، ترمیم موتر سایکل، فارم مرغداری کمترین سهم را در این گراف دارند.

بخش‌های تجارت، زرگری، صرافی، و ترمیم موبایل به عنوان پر درآمدترین حوزه‌ها باید در اولویت آموزش و سرمایه‌گذاری قرار گیرند. خیاطی و مشاغل دولتی نیز با سهم قابل توجه، گزینه‌های مناسبی برای جوانان هستند. در مقابل، صنایع کم‌درآمد نیازمند بهبود زیر ساخت‌ها و شرایط شغلی هستند تا جذابیت بیشتری برای جوانان ایجاد کنند.

بر اساس یافته‌های این تحقیق، وضعیت شغلی جوانان افغانستان با چالش‌های متعددی مواجه است که مستقیماً بر وضعیت اقتصادی و اجتماعی کشور تأثیر می‌گذارد. بسیاری از جوانان به دلیل نبود فرصت‌های مناسب شغلی و کمبود مهارت‌های تخصصی ناچار به اشتغال در مشاغل مؤقتی یا کوچک می‌شوند که پایداری اقتصادی چندانی ندارند.

یکی از عوامل مهم این چالش، سطح پایین تحصیلات و عدم دسترسی به آموزش‌های حرفه‌ای است؛ به‌طوری‌که بخش قابل‌توجهی از جوانان تنها تعلیمات ابتدایی و متوسطه دارند و ۹ فیصد از آنان بی‌سواد مطلق هستند. این مسئله سبب شده که جوانان در مواجهه با نیازهای پیشرفته و تخصصی بازار کار دچار ضعف شوند. از سوی دیگر نبود ارتباط مؤثر میان نظام آموزشی و نیازهای واقعی بازار کار نیز بر تشدید این وضعیت افزوده است.

شبکه‌های غیر رسمی مانند: دوستان و آشنایان ٤٧,٩١ فیصد اصلی‌ترین منبع اطلاع رسانی شغلی برای جوانان هستند، در حالی که ادارات دولتی تنها ۲,۹ فیصد نقش در این حوزه دارند. این امر بیانگر ضعف سیستم‌های رسمی اطلاع رسانی و نبود کانال‌های مؤثر برای ارائه اطلاعات شغلی به جوانان است.

ترجیح مشاغل فنی و خدماتی مانند: ترمیم موبایل ۲۷,۱ فیصد تجارت شخصی ١٤ فیصد و خیاطی ١٠,٤ فیصد نشان می‌دهد که جوانان بیشتر به سمت کارهایی تمایل دارند که نیازمند سرمایه‌ای اولیه پایین و مهارت‌های عملی هستند. هم‌چنین فرصت‌های شغلی پر درآمد محدود به حوزه‌هایی مانند: تجارت ۳۵ فیصد و زرگری ۱۱ فیصد است که نیازمند سرمایه‌گذاری و حمایت تخصصی می‌باشد.

از دیگر یافته‌های مهم این تحقیق مشکلات عمده‌ای است که جوانان بیکار با آن مواجه اند. عوامل اقتصادی ۲۸,۲ فیصد نبود مهارت‌های تخصصی ١٤,٦ فیصد و بی‌سوادی ١٤,٥ فیصد از بزرگ‌ترین موانع دستیابی به اشتغال محسوب می‌شوند. نبود فرصت‌های کاری مناسب در بسیاری از مناطق کشور نیز چالشی جدی برای بهبود وضعیت اشتغال جوانان است.

این یافته‌ها بیانگر ضرورت تدوین سیاست‌های جامع و اجرایی برای کاهش بیکاری، ارتقای سطح مهارت‌های جوانان، توسعهٔ زیر ساخت‌های اقتصادی و تقویت همکاری میان دولت و بخش خصوصی هستند.

# په ټولنه کې د ښېګڼې ونډه

لیکوال: سمیع الله ابراهیمي

انسان الله تعالی اشرف المخلوقات پیدا او په ټولنیز ژوند یې مکلف ګرځولی دی. دا ځکه چې انسان په ټولنه کې د یو او بل د اړتیاوو په پوره کولو سره د انساني ژوند تصویر وړاندې کوي.

الله تعالی فیصله وکړه، چې انسان پیدا او پر ځمکه یې خپل خلیفه وټاکي. د الله تعالی په ځمکه او اوسېدونکو به د الله تعالی فرمان پلي کوي او له دې سره به خپل مسؤلیت ته رسېدنه کوي او پر هغه څه چې مکلف ګرځول شوی تطبیقوي یې.

انسان د ټولنیز ژوند په مختلفو اړخونو کې د ځینو کارونو پر کولو مأمور او له ځینو کارونو څخه منع شوی، چې نه به یې تر سره کوي او په ټوله کې د امر باالمعروف او نهی عن المنکر موضوع تر عنوان لاندې راځي. دا چې انسان په ټولنه کې ځانګړي مسؤلیتونه لري؛ نو په کار ده چې لومړی خپل مسؤلیتونه وپېژني او بیا یې د ترسره کولو لپاره لاس په کار شي.

ښېګڼه، تعاون او مرسته د مسلمان انسان له مسؤلیتونو څخه دي. د الله تعالی د امر مطابق چې فرمايي: (وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ.) الآیه. ژباړه: کوم کارونه چې د نېکۍ او خدای پالنې دي په هغو کې له ټولو سره مرسته وکړئ او کوم کارونه چې د ګناه او تېري دي، په هغو کې د هیچا ملاتړ او مرسته مه کوئ.

په ښېګڼې سره عزت او سر لوړي راځي، د مرستې او کمک په پایله کې د اسلامي احکامو د تطبیق ترڅنګ د ټولنې لپاره هوساینه او آرامتیا هم رامنځته کېږي؛ نو په کار ده، چې دې برخې ته لازمه پاملرنه وشي. په ټولنه کې باید د مشرانو او د اهل نظر خلکو نصیحتونو ته غوږ ونیول شي. د دیني ارشاداتو، کلتور، تاریخ او ټولنې مطالعه د دې لامل ګرځي، چې په ټولنه کې د مشرانو احترام، پر کشرانو شفقت، د بېوزلو لاسنیوی، له ګاونډیانو سره د ښه چلند، د دوستانو حقوق او د ټولنې د ټولو اوسېدونکو پر وړاندې د مسؤلیتونو درسونه زده کېږي.

په هره ټولنه کې د ژوند د پر مخ وړلو لپاره یو لړ قوانین، قواعد، اصول او مقررات شتون لري، چې د هغو په رڼا کې د ژوندانه مسیر مشخص شوی دی. په دې لړ کې د ټولنې د کلتوري برخې ځیني ولسي او ټولنیز رمزونه هم موجود دي، چې د هغو له ډلې څخه د مشرانو او سلفو هغه غوره ویناوې دي، چې د وخت په تېرېدو سره پخې شوې او اوس د کاڼو کرښې ګرځېدلې دي.

وايي: چې «ښه کوه اوبو ته یې اچوه، اوبه یې نه وړي» دا هغه پخه او په تول تللې خبره ده، چې په عملي کولو سره یې د ژوند د آرامۍ او هوساینې لوړو پوړیو ته پرې رسېدلی شو. دا په اصل کې د اسلامي ارشاداتو برخه هم ده، چې پورته ترې یادونه شوې ده.

اوس عامه ده، چې وايي: «ښه مه کوه، بده به له کومه شي». سمه ده په ځینو ځایونو کې به د ښه کولو په نتیجه کې له ستونزو سره مخ شوي یو، خو دا په دې مانا نه ده، چې ښېګڼه دې بدي وزېږوي. بلکې په دې باوري اوسه، چې ښه کول د الله تعالی امر دی او په ترسره کولو سره به یې احسان در سره کېږي.

# د خرڅلاو مدیریت څه شی دی او څه ډول ترسره کېږي؟

ليکنه: ضیاء الرحمن ضیاء



خرڅلاو: له پېرودونکو سره د هغو د اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته کوي.
د ټولو شرکتونو موخه همدا وي چې د بازار د اړتیا او غوښتنو له لارې د اوږدې مودې لپاره خپل خرڅلاو ډېر کړي. دې موخې ته د رسېدو لپاره د خرڅلاو مدیریت رول لري.
نننۍ پلورونکي د تېرو په پرتله د سوداګرۍ په نړۍ کې ځواکمن شمېرل کېږي او د دوی کوښښ د یو شرکت پر بېلابېلو فعالیتونو ډېر اغېز لري. هغوی پېرودونکو ته د خپل شرکت محصولات ورپېژني او له هغوی څخه سپارښتنې ترلاسه کوي. په بازار کې د خپل شرکت د محصولاتو موقعیت ساتي، د سیالانو څرنګوالی څېړي او په پای کې د خپل شرکت د بریالیتوب زمینه برابروي. ټول شرکتونه د خپلو محصولاتو د خرڅلاو لپاره مناسبې لارې چارې ګوري. هغوی په مستقیم او غیرمستقیم ډول له پلورونکو څخه ګټه اخلي. په دواړو حالتونو کې باید خرڅلاو مدیریت شي.

**د خرڅلاو مدیریت څه ته وايي؟**

د خرڅلاو مدیریت له هغو بحثونو څخه دی چې په دې وروستیو کې ډېرې په پروګرام جوړونه، سازماندهي، لارښوونه او د خرڅلاو پر ځواک ټینګار کوي.
د خرڅلاو د مدیریت او اهمیت په اړه لومړی موږ باید خرڅلاو وپېژنو چې خرڅلاو څه شی دی؟ له مشتري سره د هغه شي په اخیستو کې چې ورته اړتیا لري، مرسته کولو ته خرڅلاو وایي او له دریو مرحلو څخه عبارت دی:

۱. د پېرودونکو د اړتیاوو پېژندنه.
۲. د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د حل لارو وړاندې کول.
۳. د پېرودونکو رضایت ترلاسه کول.
ټول توکي او خدمتونه د شرکتونو لهخوا تولیدېږي، بیا بازار ته لېږل کېږي د خرڅلاو د عملیې په واسطه خرڅېږي او د اخیستونکو لاس ته رسېږي. پلورونکی د اخیستونکو او تولیدوونکو تر منځ د یوه ارتباطي پُل په څېر رول لوبوي، خو د پلورونکو فعالیتونه او کړنې د خرڅلاو د مدیرانو لهخوا رهبري، سازماندهي او کنټرولېږي.

**د خرڅلاو مدیریت دندې څه دي؟**

د خرڅلاو د مدیر بنسټیزه دنده د نورو مدیرانو په شان ده. لکه:پروګرام جوړونه، رهبري کول، لارښوونه او کنټرول.
د خرڅلاو مدیر باید د خرڅلاو موخې مشخصې، د بازار موندنې او د شرکت له نورو برخو سره یې همغږې کړي. په بل عبارت د یوه شرکت د بازار موندنې موخې د خرڅلاو په موخو بدلېږي. کولی شئ د خرڅلاو موخې د خرڅلاو ډېروالي ته په کتو، په یوه مستقیم خط برابرېږي.
همدارنګه کولی شئ دا موخې د خرڅلاو د سیمې، د مصرفوونکو ډولونو او د وخت په تېربدو سره وېش بندي کړئ.
سربېره پر دې کولی شئ همدغه موخې وارزوئ، ترڅو د خرڅلاو له لارې ډېره ګټه تر لاسه کړئ.
د خرڅلاو مدیر خپل وخت لاندې موخو ته د رسېدو لپاره ځانګړی کړي.
۱. د اړتیا وړ کسانو استخدام او ګمارنه.

۲. د خپل خرڅلاو د ځواک لپاره د زده‌کړو امکانات برابرول.
۳. له دې نه ځان باید ډاده کړو، چې آیا داسې برنامې شته چې په ورځني کارګرانو کې د خرڅلاو انګېزه پیداکوي.
د خرڅلاو د مدیرانو دندې هره یوه تر بحث لاندې نیسو:

**• پروګرام جوړونه**

د خرڅلاو مدیران لومړی باید د خرڅلاو پروګرام جوړونې ته پاملرنه وکړي. پروګرام جوړونه د پرېکړې له هغې مجموعې څخه عبارت ده، چې په پایله کې د ټولو عملي مرحلو یو تصویر په لاس راشي. د یادونې وړ ده چې د خرڅلاو پروګرام جوړونه په سمه او دقیقه توګه د یوه شرکت د ټولو پروګرامونو سره په همغږۍ برابره شي.

د پروګرام جوړونې اهمیت دا دی چې مخکې له مخکې فکر وشي او اټکلیزې حل لارې وټاکل شي، پروګرام جوړونه له هغو اهرامونو څخه ده، چې د خرڅلاو مدیران ترې ګټه اخلي، د خرڅلاو بودیجه، د وېش لګښت، د خرڅلاو د سیمو د پلورونکو لپاره د سهم او داسې نورو په دقیقه توګه ټاکل دي. د خرڅلاو مدیران کولی شي د خرڅلاو د دقیقې بودیجې ټاکلو لپاره د خرڅلاو له وړاندوینې څخه ګټه واخلي.

د خرڅلاو وړاندوینه د نقدي خرڅلاو یا فزیکي واحدونو یو تخمین دی، چې په راتلونکې ټاکلې وخت د بازارموندنې د پروګرام تر چتر لاندې جوړیږي. په اساسي ډول وړاندوینه او د خرڅلاو بودیجه د یوه شرکت د ټولو عملي پروګرامونو بنسټ جوړوي.

**• سازماندهي**

د خرڅلاو د مدیریت دوهیمه دنده سازماندهي ده، چې په سوداګریزو کارونو کې تر ټولو سخت او حساس کار دی، چې تجربه او پوهه غواړي. سازماندهي هغه وخت په سمه توګه ترسره کېږي، چې د یوه پروګرام په لاره اچولو طرحه په سمه توګه ترسره شوی وي او یو شرکت موخې په عام ډول او د خرڅلاو د څانګې موخې په خاص ډول مشخصې شوې وي.

د خرڅلاو مدیریت باید خپله څانګه په ښه ډول سازماندهي کړي، ترڅو په اغېزمنه توګه د خرڅلاو څانګه پر مخ یوسي. کله چې د خرڅلاو د څانګې چوکاټ په سمه توګه طرحه شي. د راپور ورکولو کاري اړیکې، مسؤلیتونه او صلاحیتونه، میتودونه او کنټرول به هم مشخص شي. دا عوامل د دې سبب ګرځي، ترڅو د خرڅلاو ټیم له یو بل سره همکاري وکړي او د شرکت موخې په اغېزمنه توګه ترلاسه کړي.

**• د انساني قوې تأمین**

عملي خرڅلاوې انساني قوې ته اړتیا لري او کمپیوتري خدمات نه شي کولی چې هغه له انساني قوې څخه بې‌نیازه کړي. لکه څنګه چې معلومه ده، د خرڅلاو عملیه داسې ترسره شي چې مطلب یا موخه ترلاسه کړي په لومړۍ درجه کې توان، پوهه، معلومات او د هغو افرادو کوښښ، چې د خرڅلاو په برخو کې ګمارل شوي د اهمیت وړ دي.

د خرڅلاو د عملیې بریالي کېدل، د پلورونکو په ښه ځواب ویلو او پر ځای انتخاب پورې اړه لري؛ نو پر دې بنسټ د خرڅلاو مدیرت باید د ښه امر، زده‌کړې، د ورکړې سیستم پلورونکو ګټې او حقوق ته ډېره پاملرنه وکړي. د خرڅلاو مدیر د انساني قوې د تأمین لپاره یوې برنامې ته اړتیا لري، تر څو د هغې لارې وکولی شي د خپلې اړتیا وړ د متخصصینو قوه وټاکي. د انساني سرچینو د برنامو جوړولو لپاره تر ټولو مهمه مسئله زده‌کړه ده. د خرڅلاو مدیر باید داسې روزنیز ورکشاپونه او کورسونه جوړ کړي، ترڅو د خرڅلاو څانګه د پلورونکو له پېژندنې، د شرکت جوړښت، محصولات، موخې، دپېردونکو برنامې او د خرڅلاو د بنې په اړه خپل معلومات زیات کړي.

**• لارښونه**

د خرڅلاو د مدیر بله دنده د خرڅلاو پر قوې اداره او مدیریت ده. هغه باید د خرڅلاو په څانګه کې ټاکل شویو کسانو ته داسې لارښوونه وکړي، چې دِ شرکت موخې ترلاسه کړي.

اصولاً د خرڅلاو مدیران د پلورونکو لپاره د سیمو تخصیص او د خرڅلاو پر سهمیې سره کولای شي د خرڅلاو عملیه ترسره کړي.

د خرڅلاو سیمې عبارت له هغو جغرافیایي ځانګړ شویو سیمو څخه دي، چې پلورونکو ته د خرڅلاو د فعالیت په اړه ښودل شوي دي.

**• کنټرول**

د دې په اړه ډاډ تر لاسه کول، چې آیا د خرڅلاو قوه د طرحه شوې پروګرام په چوکاټ کې فعالیتونه ترسره کوي، له دې عنصر څخه د خرڅلاو د عملیې په مدیریت کې ګټه اخیستل کېږي. د کنټرول په لاس راغلي نتایج او هغه پایلې چې موږ یې انتظار کوو، یوه مقایسه ده.

**د خرڅلاو د مدیریت عملیه**

په ټولیزه توګه د مدیریت عملیه پنځه مرحلې لري:

۱. د خرڅلاو د معلومات را ټولولو لپاره یو مرکز جوړول، چې په دې مرکز کې د شرکت د بېلابېلو محصولاتو په اړه د ورکړل شویو سفارشونو ته رسېدنه؛

۲. د لاسته راغلو معلوماتو تحلیل او د بېلابېلو بهیرونو لاسته‌راوړنه، چې په دې مرحله کې د بېلابېلو سفارشونو د تحلیلونو له لارې مختلف بهیرونه په لاس راځي. په دې مرحله کې د معلوماتو د تحلیلونو لپاره له بېلابېلو تاکتیکونو څخه کار اخیستل کېږي؛

۳. د مخکینیو بهیرونو پر بنسټ د راتلونکو خرڅلاو وړاندوینه، چې په دې ځای کې د تېرو بهیرونو پر بنسټ د راتلونکې خرڅلاو تخمینېږي. په دې تحلیل کې د شرکت د بازار موندنې موخې هم شاملې وې؛

٤. په دې مرحله کې د سیمو او ونډې ټاکل، چې په دې مرحله کې د شرکت موخې د بازار په بېلابېلو سیمو کې تخمینېږي. چې د دې سیمو پر بنسټ د خرڅلاو ونډه ټاکل کېږي؛

٥. د پلورنکو شمېر او د خرڅلاو عاملینو ټاکل، چې په دې مرحله کې د پلورونکو شمېر او د خرڅلاو د ونډې پر بنسټ ټاکل کېږي.



# د کار او ټولنیزو چارو وزارت له لوري د ولایتي ریاستونو کار کوونکو ته، د کار بازار د مطالعاتو ښوونیز ورکشاپ په لار واچول شو

راپورجوړوونکی: موسی خان احمدزی

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د بشري ځواک لوی ریاست د کار بازار مطالعي ریاست له لوري، د دې وزارت د ولایتي ریاستونو کارکوونکو ته د کار بازار د مطالعاتو او پلان جوړونې تر عنوان لاندې ښوونیز ورکشاپونه جوړ شول.

د ورکشاپ پیل‌غونډې ته د کار چارو معین الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي په خپلو خبرو کې په هېواد کې د اقتصادي ثبات رامنځته کولو، د کار بازار دقیقو اړتیاوو په تشخیص، د بشري سرچینو مؤثره کارونې، د کاري فرصتونو عادلانه وېش، د فقر کچې راټیټول او د مسلکي مهارتونو ترویج پر څرنګوالي د رڼا اچولو سربېره وویل: په اوس وخت کې د کار بازار ته ډېر دقت او پاملرنه په کار ده، ترڅو په ټولنه کې د بېکارۍ کچه راټیټه او ځوانانو ته په بېلابېلو برخو کې د کار زمینه برابره شي.

د کار چارو معین په خپلو خبرو کې زیاته کړه: د افغانستان اسلامي امارت په ځانګړي ډول د کار او ټولنیزو چارو وزارت هوډ لري، چې د فني او حرفوي زده‌کړو او د ځینو نورو مؤثرو برنامو د تطبیق له لارې په هېواد کې د بېکارۍ کچه را ټیټه کړي او ځوانانو ته کاري فرصتونه برابر کړي چې د اړتیا وړ حرفې یوازې د کار بازار له دقیقې مطالعې سره تثبیتبدلی شي.

وریسې د بشري ځواک لوی رئیس مولوي عزت‌الله عارف هم په خپلو خبرو کې د ورکشاپ په ارزښت او اهمیت باندې هر اړخیزې خبرې وکړې او له ګډونوالو څخه یې غوښتنه وکړه، چې له دې پروګرام څخه د ترلاسه شویو تجربو او مهارتونو څخه دې په ورځنیو چارو کې ښوره استفاده وکړي.

د ورکشاپ په پیل‌غونډه کې د رڼا پوهنتون استاد نصیر احمد همکار هم په خپلو خبرو کې د بېکارۍ کچې د راټیټولو، د مهارتونو او دندو ترمنځ توازن، د هېواد اقتصادي ودې، د تولید زیاتوالي او د کارکوونکو د حقونو د تأمین په تړاو ګډونوالو ته هر اړخیزه معلومات ورکړل.

د یادولو وړ ده، چې د یادو ښوونیزو پروګرامونو په پای‌غونډه کې د کار او ټولنیزو چارو وزیر الحاج ملا عبدالمنان عمري هم د ولایتي ریاستونو کارکوونکو ته په خطاب کې وویل: د هېواد په اطرافي سیمو کې د ټولنې تر ټولو زیانمنو او مستحقو ډلو ته د هر ډول خدماتو په وړاندې کولو کې له دیانت، اخلاص او غوره اخلاقو څخه کار واخلئ، ځکه دا ډول چلند؛ د دنیوي ګټو سربېره اخروي اجرونه هم لري.

همدا راز نوموړي په خپلو خبرو کې زیاته کړه، چې د ولایتي ریاستونو کار کوونکو ته په یادو ښوونیزو پروګرامونو کې د مسلکي اخلاقو په ډولونو، اصولو، د فردي چلند په اصلاح، ټولنیز نظم ټینګښت، د عدالت او انصاف ترویج، اعتماد او همکارۍ رامنځته کول، الهي رضا حاصلولو، د انساني کرامت ساتنې او موخې ته رسېدل، د منابعو پرځای استعمال، ستونزو ته مخکې له وخته حللارو موندل، همغږي رامنځته کول، د کار د کیفیت لوړول، تصمیم نیول او د خطرونو کمولو د اصولو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې شوي او له ګډونوالو څخه مو هیله داده چې د ترلاسه شویو معلوماتو، مهارتونو او تجروبو څخه په خپل کاري چاپېریال کې ګټه واخلي، ترڅو په چارو کې ښه‌والی او هېوادوالو ته غوره خدمات وړاندې شي.

د ورکشاپ په پای کې د کار بازار د مطالعي ریاست له لوري په مرکز او ولایاتو کې سر کال ترسره شوې مطالعې ټول جزئیات، ارقام او په ولایتونو کې د اړتیا وړ حرفې له ولایتي کارکوونکو سره شریک شول، ترڅو د هغوی پر بنسټ او د خلکو اړتیاوو ته په کتو اغېزناک خدمات هېوادوالو ته وړاندې شي.

د یادونې وړ ده، چې د کارکوونکو د مسلکي چلند او حسنه اخلاقو ښوونیز پروګرام د کار او ټولنیزو چارو وزارت اړوند د کار انستیتیوټ او د پلان جوړونې ښوونیز پروګرام د پالیسۍ او پلان ریاست په همکارۍ ترسره شوه.



# خبرونه
# خبرها

## د کار او ټولنيزو چارو وزير په افغانستان کې د کار نړيوال سازمان له نوي رئيس سره وکتل

د کار او ټولنيزو چارو وزارت وزير الحاج ملا عبدالمنان عمري، په داسې حال کې چې د کار چارو معين هم حضور درلود، په افغانستان کې د کار نړيوال سازمان له نوي رئيس ټيټي هيباکاري سره د پېژندګلوۍ ناسته وکړه.

ناسته کې دواړو لوريو د غوره کار د ترويج، کارموندنې، د فني او حرفوي زده کړو پراختيا، د ځوانانو لپاره د کاري فرصتونو د رامنځته کولو او د کار بازار د لا ښه‌والي په اړه خبرې اترې وکړې.

الحاج ملا عبدالمنان عمري وويل: دا وزارت ژمن دی، ترڅو په هېواد کې د مختلفو لارو چارو څخه په استفادې د بېکارۍ کچه راټيټه، د ځوانانو لپاره په مختلفو برخو کې کاري فرصتونه رامنځته او له هېواد څخه بهر په قانوني توګه د افغان ماهرو کارګرو د لېږد زمينه برابره کړي.

د کار او ټولنيزو چارو وزارت وزير، همدا راز د کار نړيوال سازمان څخه وغوښتل، چې د وزارت سره په همغږۍ د افغانستان په مختلفو سيمو کې خپلې پروژې تطبيق کړي.

وروسته د کار چارو معين الحاج مولوي محمدزاهد احمدزي هم په خپلو خبرو کې وويل: د افغان کارکوونکو ظرفيت لوړول، د کار اړوند تقنيني اسنادو پلي کول او په دې برخو کې له نړيوالو ادارو سره همغږي زمونږ لپاره مهم لومړيتوبونه دي او د دې موخو د ترلاسه کېدو لپاره اړينه ده، چې ټولې خواوې په ځانګړې توګه د کار نړيوال سازمان له دې وزارت سره نږدې همغږي ولري.

په پای کې په افغانستان کې د کار نړيوال سازمان رئيس ټيټي هيباکاري په مختلفو برخو کې د کار او ټولنيزو چارو وزارت له فعاليتونو څخه د خوښۍ سربېره د دې سازمان د فعاليتونو او برنامو په اړه د معلوماتو شريکولو ترڅنګ ژمنه وکړه، چې افغان وګړو ته به د سهولتونو د برابرېدو په موخه له دې وزارت سره د کار اړوند برنامو او د اړتيا وړ نورو برخو کې خپلې اړيکې پراخوي.

## د کار او ټولنيزو چارو وزير، په افغانستان کې د قطر شاهي هېواد د سرې مياشتې له رئيس سره وکتل

د کار او ټولنيزو چارو وزير الحاج ملا عبدالمنان عمري نن د خپل کار په دفتر کې د قطر شاهي هېواد د سرې مياشتې رئيس حسين بوتاني سره وليدل.

د ناستې په پيل کې ښاغلي بوتاني په افغانستان کې د خپلو فعاليتونو د مخينې، برنامو او لاسته‌راوړنو په اړه د کار او ټولنيزو چارو وزير ته معلومات ورکړل.

حسين بوتاني وويل: موږ خپلې ټولې پروژې د افغانستان اسلامي امارت د اصولو مطابق پلي کوو او ياد اصل ته ژمن يو، همدا راز ژمنه کوو چې د ټولو راتلونکو پروژو په ډيزاين، تطبيق او متنوع کولو کې له اړوندو امارتي ارګانونو سره به همغږي کوو.

الحاج ملا عبدالمنان عمري د قطر هېواد د سرې مياشتې فعاليتونه وستايل او له هغوی څخه يې وغوښتل چې د ټولنې تر ټولو زيانمنو ډلو په ځانګړې ډول ماشومانو او بېرته راستنېدونکو هېوادوالو پوره ملاتړ وکړي او ډېرۍ پروژې هغوی ته وقف کړي.

د کار او ټولنيزو چارو وزير د قطر شاهي هېواد د سرې مياشتې ټولنې سره ژمنه وکړه چې د هغوی غوره او اغېزناک فعاليت لپاره د شرايطو په برابرولو کې هر ډول همکارۍ ته چمتو دی.

په پای کې ښاغلي حسين بوتاني زيانمنو ډلو د پروژو د اسنادو په ژر بشپړېدو کې د همکارۍ غوښتنه وکړه.

د يادونې وړ ده چې د قطر د سرې مياشتې ټولنه په افغانستان کې د روغتيا، اوبو رسولو او په اضطراري حالاتو کې مرستندويه پروژې لري او اوسمهال د نورو برخو ترڅنګ د يتيمو او بې‌سرپرستو ماشومانو او د زيان‌منو ډلو ملاتړ په برخه کې هم فعاليتونه لري.

## سلګونه تنه له اعتياد څخه رغېدلي اشخاص له فني او حرفوي زده‌کړو فارغ شول

د کار او ټولنيزو چارو وزارت اړوند د پلچرخي د فني او حرفوي زده کړو له مرکز څخه په څلورمې ښوونيزې دورې کې ۵۱۴ تنه له اعتياد څخه رغېدلي اشخاص له ٦مياشتنيو عملي او نظري زده‌کړو وروسته په خياطۍ، د تعميراتو برېښنا، بوټ‌ګنډلو، بيګ‌ګنډلو او د کورنيو برقي وسايلو ترميم په حرفو کې له فني او حرفوي زده‌کړو فارغ شول.

هغې غونډې ته چې په همدې مناسبت جوړه شوې وه د کار او ټولنيزو چارو وزارت د کار چارو معين الحاج مولوي محمدزاهد احمدزي وويل: د خوښۍ ځای دی، چې نن تر ټولو محروم قشر د فني او حرفوي زده‌کړو پر ګاڼه له سمبالېدو وروسته د يو مسئول فرد په توګه ټولنې او کورنيو ته ورانډې کوو چې له دې وروسته به نه يوازې پر ټولنې او کورنيو بوج نه وي بلکې د خپلو کورنيو د حلالې نفقې برابرولو مسؤليت به هم ولري.

مولوي محمدزاهد احمدزي زياته کړه: د کار او ټولنيزو چارو وزارت توانېدلی چې د کابل سربېره په هرات، کندهار، پکتيا او پکتيکا ولايتونو کې هم له اعتياد څخه رغېدلو ۵۰۰۰ څخه زياتو هېوادوالو ته تر دې دمه د فني او حرفوي زده‌کړو زمينه برابره کړي، چې اکثريتو يې کاري وسايل هم ترلاسه کړي دي او د کار او ټولنيزو چارو وزارت هوډمن دی، چې دا سلسله په کمي او کيفي ډول د هېواد نورو ولايتونو ته هم وغځوي.

مولوي محمدزاهد احمدزي له فارغانو وغوښتل چې خپل کسب او کار ته په مخلصانه ډول غاړه ورکړي او د خپلې ټولنې خدمت وکړي.

غونډې ته د مهارتونو د پراختيا لوی رئيس مولوي رحيم‌الله صراح هم په خپلو خبرو کې وويل: د هېواد له ښار او کوڅو او همدارنګه له کليو او بانډو څخه د معتادينو راټولول، درملنه، هغوی ته د فني او حرفوي زده‌کړو ورکول او پر هغوی کاري وسايل ويش يوه کاميابه برنامه ده چې زرګونه ځوانان له هغې مستفيد شوي او هوډ لرو، چې دا برنامه د هېواد هر ګوټ او د مخدرو مواد له اعتياد څخه د هر زيامن کس تر کوره ورسوو.

د يادولو وړ ده؛ چې له دې وړاندې هم په کابل، کندهار، هرات، پکتيا او پکتيکا ولايتونو کې تر ۵۰۰۰ زيات له اعتياد څخه رغېدلو هېوادوالو فني او حرفوي زده‌کړې ترلاسه کړې وې او د ماهرو کاريګرو په توګه د کار بازار ته وړاندې شوي وو.

## نویو پانګه‌والو او ونډه‌والو ته د امر تېږ ان مخابراتي شرکت د ملکیت او مدیریت د سپارلو په غونډه کې د کار او ټولنیزو چارو وزیر ګډون او وینا وکړه

د کار او ټولنیزو چارو وزیر الحاج ملا عبدالمنان عمري؛ د ATOMA نوم ته د MTN د بدلېدو او نویو پانګوالو او ونډه‌والو ته یې د ملکیت او مدیریت د سپارلو په مراسمو کې ګډون او وینا وکړه.

ملا عبدالمنان عمري په خپلو خبرو کې وویل: هیله لرو چې ATOMA په نوي اجرائوي مدیریت سره د افغانستان اسلامي امارت او په ټوله کې خصوصي سکتور سره اړیکې تر پخوا نورې هم پیاوړې او غښتلې شي، په مخابراتي سکتور کې په کاربوختو کاریګرو او کارکوونکو مادي او معنوي حقوقو،ډاډمن تأمین ته زمینه برابره شي، د مکالماتي او انټرنټي خدمتونو په کمیت او کیفیت دواړو کې غوره‌والی راشي، د تکنالوجي په برخو کې له نړیوالو معیارونو سره هم‌مهاله ګامونه واخیستل شي، د مشتریانو غوښتنو ته پاملرنه زیاته کړي او دا خدمتونه د هېواد هرې لېرې پرتو سیمو، کلیو او بانډیو ته ورسیږي.

الحاج ملا عبدالمنان عمري په خپلو خبرو کې زیاته کړه: له نېکمرغه په هېواد کې تر بل هر وخت اوس هر ډول قانوني خدماتو او فعالیتونو ته زمینه برابره ده، د هر پانګوال سر، مال، عزت او شرف خوندي دی، دا چې اوس نوي فرصتونه رامنځته شوي، نو په همدې بنسټ له هېواد میشته ځوانانو څخه د زغم او همدارنګه له سیاحتي شرکتونو غواړو چې په سیاحتي ویزو بهر ته د افغان کارګرو له لېږد څخه په جدي توګه ډډه وکړي، ځکه د کار او ټولنیزو چارو وزارت په هڅو یوازې بهر ته د افغان کارګرو قانوني لېږد دی چې په غوره امتیازاتو د هغوی کار او فعالیت او هوسا ژوند ته زمینه برابروي او په غیر قانوني ټګ سره افغان ځوانان د بې‌کیفیته کار، کم مزد او نورو حقوقي او استوګنیزو ستونزو سره مخ کېږي.

الحاج ملا عبدالمنان عمري وویل: د کار او ټولنیزو چارو وزارت ژمن دی، ترڅو په هېواد کې د مختلفو لارو چارو څخه په استفادې د بېکارۍ کچه راټیټه، د ځوانانو لپاره په مختلفو برخو کې د کاري فرصتونو رامنځته او له هېواد څخه بهر په قانوني توګه د افغان ماهرو کاریګرو لېږد ته زمینه برابره کړي.

الحاج ملا عبدالمنان عمري زیاته کړه: دا چې په خصوصي سکتور کې ستونزې او ننګونې موجودې دي، مخابراتي سکتور هم له دې امر څخه مستثنی نه دی او د کار او ټولنیزو چارو وزارت له ټولو شبکو، فابریکو او مؤسساتو غواړي چې د کارګرو او کارکوونکو حقوق پوره تأمین کړي، د هغوی کاري چاپیریال، روغتیا، ایمني، معاش ،اضافه کار او داسې نورو تأمینات په غوره توګه تنظیم کړي، په مخابراتي سکتور کې د بهرنیو مسلکي کارګرو او کارمندانو د استخدام ترڅنګ؛ افغان کادري وګړو ته هم روزنه ورکړي، ترڅو په پای کې پر بهرنیو وګړو هم اتکاء کمه او افغانانو ته د کار زمینه برابره شي، چې دا چاره د خدمتونو په لګښتونو کې د پام وړ کموالی راولي.

## د کار چارو معین د بهر مېشتو افغانانو له یو شمېر استازو سره وکتل

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د کار چارو معین الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي د خپل کار په دفتر کې د بریتانیا، امریکا، فرانسې، اتریش او المان هېوادونو کې مېشتو افغانانو د ټولنو له استازو سره وکتل.

په پیل کې نورعالم حکیمیار او ځینې نورو د بهرمېشتو افغانانو استازو؛ د خپلو ستونزو، ننګونو، په بهر کې شته فرصتونو، لاسته‌راوړنو او راتلونکو پلانونو په اړه د کار چارو معین سره هر اړخیزه معلومات شریک او بهرنیو هېوادونو ته د انسان قاچاق د مخنیوي، ځوانانو ته په هېواد کې دننه د کاري فرصتونو د برابرول او د هېواد په لویو او ملي پروژو کې د هغوی له تجربو، تحصیل، تخصص او مسلکي کادرونو څخه د استفادې پر ځرنګوالي خبرې وکړې.

وروسته د کار چارو معین الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي په خپلو خبرو کې خپل هېواد ته د هغوی د راتګ له امله د ښه راغلاست سربېره وویل: د افغانستان اسلامي‌امارت په ځانګړې ډول د کار او ټولنیزو چارو وزارت هڅه دا ده، ترڅو په هېواد کې دننه ځوانانو ته د کار زمینه برابر کړي. د نړۍ له اړتیا او معیارونو سره سم فني او حرفوي زده‌کړې ورکړي او د امکان په صورت کې یې د اشتغال لپاره د ماهر کارګر په توګه بهرنیو کارګرمنونکو هېوادونو ته ولېږي.

الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي زیاته کړه، چې په ټوله نړۍ کې دولتونه نه شي کولی، چې د خپل هېواد ټول کاري ځواک په خپله اډانه کې جذب کړي بلکې، خصوصي سکتور په دې برخه کې مهمه ونډه لري او اوس په هېواد کې هر ډول پانګونې ته غوره شرایط برابر دي؛ نو له هېواد څخه بهر افغان سوداګرو، صنعت‌ګرو او پانګوالو څخه غوښتنه کوو، چې د هېواد په دننه کې پانګونه وکړي ترڅو هېوادوالو ته په بېلابېلو برخو کې کاري فرصتونه برابر کړي.

په پای کې نوموړي وویل: افغانستان، په بهر کې مېشت هېوادوالو تجربو، تخصص، مسلک او پانګې ته په ملي او لویو پروژو او همدارنګه د بېکارۍ په شمول لویو ټولنیزو ستونزو په حل کې اړتیا لري او په یادو برخو کې د هغوی هر ډول څېړنیزې طرحې په ورین تندي مني.

## د کار انسټیټیوټ کې د ظرفیت‌لوړونې د برنامو لړۍ روانه ده

د کار او ټولنیزو چارو وزارت انسټیټیوټ په هڅو د امارتي ادارو د کارکوونکو لپاره د نوښتګرو مدیرانو د روزنې په منظور د مدیریت بدلون تر عنوان لاندې پنځه ورځینی سیمینار جوړ شو.

د سیمینار په پرانیست غونډه کې د کار انسټیټیوټ رئیس شریف‌الله شرافت، په یوه اداره کې د بدلون اړتیا پېژندل، له نویو پرمختګونو سره ځان عیارول، د اغېزمنو اړیکو جوړول او کارکوونکو ته د بدلون د موخو، لارو او ګټو واضح کولو په اړه هر اړخیز معلومات شریک او له ګډونوالو یې وغوښتل چې په دې پروګرام کې له ترلاسه شویو زده‌کړو، مهارتونو او تجربو څخه په استفادې هېوادوالو ته غوره او ګټور خدمات وړاندې کړي. نوموړي همداراز ډاډ څرګند کړ، چې د وخت اړتیاوو ته په کتو سره به په خپلو روزنیزو پروګرامونو او برنامو کې پراخوالی راولي.

د یادونې وړ ده، چې د کار انسټیټیوټ په هڅو، په کاپیسا ولایت کې هم د فني او حرفوي زده‌کړو د استادانو لپاره د مېتودولوژۍ او د فني او حرفوي زده‌کړو د نصابونو د تطبیق تر عنوان لاندې دوه برنامې په عملي ډول پیل شوې دي.

## د آریانا طبي کمپلکس سره هوکړه‌لیک لاسلیک شو

په حمایوي مرکزونو او روزنتونونو کې د یتیمو او بې‌سرپرستو ماشومانو د غوره وقایې، تشخیص او درملنې په منظور د کار او ټولنیزو چارو وزارت، له آریانا طبي کمپلکس سره هوکړه‌لیک لاسلیک کړ.
په هغه غونډه کې چې په همدې موخه جوړه شوې وه د کار او ټولنیزو چارو وزارت د ټولنیزو چارو معین مولوي عبیدالله امین‌زاده په خپلو خبرو کې وویل: د روغتیا په شمول د ټولنې محرومو او زیانمنو ډلو هر ډول ستونزو او ننګونو ته رسېدنه او د هغوی لاسنیوی، نه یوازې د افغانستان اسلامي امارت بلکې د ټولو وګړو او بنسټونو له شرعي او انساني دندو څخه شمېرل کېږي، چې د آریانا طبي کمپلکس له دغه انساني احساس څخه مننه کوو او هغه ستایو.
مولوي امین‌زاده زیاته کړه، خوښ یو چې د هوکړه‌لیک له لاسلیک وروسته په کابل او ولایاتو کې د زیانمنو ډلو په مرکزونو او روزنتونونو کې شاملو یتیمو او بې‌سرپرستو ماشومانو ته په ځانګړې تخفیف سره معیاري صحي خدمات وړاندې کېږي.
ورپسې د آریانا طبي کمپلکس روغتون سرطبیب ډاکټر خبیر صدیقي هم په خپلو خبرو کې وویل: پخوا مو هم دا ډول خدمات وړاندې کړي او اوس د خوښۍ ځای دی، چې له هوکړه‌لیک سره به د هېواد تر ټولو زیانمن او مستحقې ډلې ته له دې وروسته په منظم او معیاري ډول روغتیایي خدمات وړاندې کوو.

## بهر ته د افغان کاریګرو د غیر قانوني اعزام د مخنیوي لپاره درېیمه ناسته ترسره شوه

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د کار چارو معین الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي په مشرۍ بهر ته دافغان کاریګرو د غیر قانوني اعزام د مخنیوي لپاره د کورنیو چارو، بهرنیو چارو، اطلاعاتو او کلتور، حج او اوقافو، عامې روغتیا او عدلې وزارتونو او د احصائیې او معلوماتو ملي اداري د استازو په ګډون درېیمه تخنیکي ناسته ترسره شوه.
په پیل کې د یادو امارتي ادارو استازو په هېواد کې د ننه او له هېواد څخه بهر افغان کاریګرو او ځوانانو د ستونزو، ننګونو، هلته شته فرصتونو او د هغوی د حقوقو د تأمین په اړه د معلوماتو د وړاندې کولو تر څنګ، د افغان کاریګرو د غیر قانوني اعزام د مخنیوي پر لارو چارو، د خپلو اړوندو مسؤلیتونو او هلته شته ستونزو ته د رسېدنې او حل پر ځرنګوالي بحث وکړ.
ورپسې د کار چارو معین الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي په خپلو خبرو کې په دې برخه کې د یادو وزارتونو او ادارو له استازو د هڅو د ستاینې سربېره په خپلو خبرو کې د افغان کاریګرو د غیر قانوني اعزام د مخنیوي، د بشري قاچاق پر وړاندې مبارزې، د کاریګرو د حقوقو، د هغوی د عزت او امنیت خوندیتوب، د اړونده ادارو تر منځ منظمې همغږۍ او همکارۍ او د قانوني کارموندنې مصئون بهیر د رامنځته کولو څخه د اطمینان او د قانوني میکانیزم د جوړولو په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې.
مولوي احمدزي د خپلو خبرو په دوام کې له اړوندو امارتي ادارو څخه غوښتنه وکړه، چې د کارموندنې له خصوصي شرکتونو سره په ګډه همکارۍ او همغږۍ د انساني قاچاق په مخنیوي کې اغېزمن او کوټلي ګامونه واخلي.

## د ټولنیزو چارو معین د افرن مؤسسې رئیس سره وکتل

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د ټولنیزو چارو معین الحاج مولوي عبیدالله امین‌زاده د خپل کار په دفتر کې له افغانانو سره د فرانسوي ولس د دوستۍ (افرن) مؤسسې رئیس پولین لاپونت سره وکتل.
په پیل کې د افرن مؤسسې رئیس پولین لاپونت په افغانستان کې د خپلو خدماتي فعالیتونو، راتلونکو پلانونو په ځانګړې ډول په پروان ولایت کې د بې‌سرپرسته ماشومانو د تعلیم، تربیې د فني او حرفوي زده کړو په ځرنګوالي او په روزنتونونو کې د ښوزلو، یتیمو او بې‌سرپرستو ماشومانو ته په زده‌کړو کې د لا غوره‌والي په اړه خبرې وکړې.
د ټولنیزو چارو معین الحاج مولوي عبیدالله امین‌زاده د افرن همکارې مؤسسې د فعالیتونو د ستاینې سربېره وویل: یتیمو او بې‌سرپرستو ماشومانو څخه ملاتړ، هغوی ته د ژوندانه د اسانتیاوو د برابرولو، ښوونې او روزنې، روغتیا او سرپناه ته یې پاملرنه د کار او ټولنیزو چارو وزارت له لومړیتوبونو څخه دي.

## د امر باالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو د اورېدو وزارت سره د همغږۍ ناسته وشوه

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله و تعالی د فرمان د تطبیق، کارکوونکو ته د اصلاحي او عقیدوي برنامو د پراخېدو او په ځینو نورو برخو کې د همغږۍ په اړه د کار او ټولنیزو چارو وزارت او د امرباالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو د اورېدو وزارتونو د مسؤلینو ترمنځ د همغږۍ ناسته جوړه شوه.
په دې ناسته کې د کار او ټولنیزو چارو وزارت د مالي او اداري چارو معین مولوي دین محمد حقبین مېلمنو ته د ښه راغلاست سربېره وویل، له نېکمرغه دې وزارت هڅه کړې، چې په مختلفو برخو په ځانګړې توګه د کارکوونکو د صورت او سیرت د اصلاح او هغوی ته د خوندي چاپېریال د جوړېدو په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله و تعالی فرمان په غوره ډول تطبیق او هم د دعوت او ارشاد ریاست له لوري مختلفې اصلاحي برنامې په لاره واچوي، چې مثبته پایله یې لرلې ده او هوډ من یو دا لړۍ لاپراخه کړو.
د امرباالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو د اورېدو وزارت محتسبینو له یادو اقداماتو څخه په هرکلي سره، څرګنده کړه: د افغانستان مسلمان ملت او د مختلفو امارتي ادارو په همغږۍ د ټولنې د اصلاح او منکراتو سره د مبارزې په برخو کې اقدامات ترسره شوي دي او هیله‌مند یو، چې امارتي اداري په دې برخه کې خپلې همکارۍ ډېرې او هم هېوادوالو ته د غوره خدماتو د وړاندې کولو په برخو کې خپل اړوند کارکوونکي لا ډېر متوجه کړي.

## د کار چارو معین د کارگر نړیوالې ورځې په غونډه کې ګډون وکړ

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د کار چارو معین الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي د کارګرو د نړیوالې ورځې په غونډه کې ګډون او وینا وکړه.
هغې غونډې ته چې په همدې مناسبت جوړه شوې وه، د کار چارو معین الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي په خپلو خبرو کې د کارګر نړیوالې ورځې په مناسبت هغوی ته د مبارکۍ سربېره وویل: کارګر د یوې ټولنې د پرمختګ اصلي لامل دی، کارګر هغه څوک دی، چې د هېواد د ابادۍ لپاره په خپل ځان هر ډول سختي تېروي او دا زموږ دنده ده چې کارورکوونکو او کارګرو ته کاري اسانتیاوې برابرې او د دواړو لوریو حقوق تأمین کړو.
مولوي محمد زاهد احمدزي زیاته کړه: د افغانستان اسلامي امارت په ځانګړې ډول د کار او ټولنیزو چارو وزارت ژمن دی، ترڅو په هېواد کې د مختلفو لارو چارو څخه په استفادې د بېکارۍ کچه راټیټه، د کارګرانو حقه حقوق تأمین، د ځوانانو لپاره په مختلفو برخو کې کاري فرصتونه برابر او له هېواد څخه بهر په قانوني توګه د افغان ماهرو کارګرو لېږد ته زمینه برابره کړي.
د کار چارو معین وویل: د کارګرو ستونزو او ننګونو د حل په موخه او د هغوی شکایتونو ته پر وخت رسېدنې لپاره د شکایتونو څانګه هم پرانیستل شوې ده.
وروسته غونډې ته د کارګرو او کارکوونکو ملي اتحادیې سرپرست مولوي عبدالمتین مولوي‌زاده په خپلو خبرو کې کارګرو سره د مناسب چلند، نرۍ کې د کارګرو پر ارزښت، د هغوی د حقوقو تأمین او کارګرو ته د ژوند د اسانتیاوو او معیارونو برابرولو په اړه یې هر اړخیزې خبرې وکړې ترڅو په وینا یې په ټولنه کې عدالت تأمین او تولیداتو کې زیاتوالی راشي.
په پای کې، په افغانستان کې د کار نړیوال سازمان رئیس ټیټي هیباکاري، په مختلفو برخو کې د کار او ټولنیزو چارو وزارت له فعالیتونو څخه د خوښۍ سربېره، د دې سازمان د فعالیتونو او برنامو په اړه د معلوماتو شریکولو ترڅنګ د کاروړکوونکو او کارګرو د حقوقو د فاع، د مزد په ورکړه کې عدالت، د کاري شرایطو برابرول، دجبري کار مخنیوی، ټولنیز عدالت او په ځانګړې ډول ځوانانو ته دکاري فرصتونو د ایجاد او د کار اړوند قوانینو، پالیسیو او معیارونو جوړولو په موخه هراړخیزه وینا وکړه.
د یادولو وړ ده؛ چې د کارګرو نړیوالې ورځ د لمانځلو په غونډه کې، د بهرنیو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال ډاکټر محمد نعیم وردګ، د کار او ټولنیزو چارو وزارت د ټولنیزو چارو معین مولوي عبیدالله امین‌زاده، مالي او اداري مرستیال مولوي دین‌محمد حقبین، د خصوصي سکتور، د فابریکو او د صنعت کارانو د ټولنې استازو هم ګډون کړی وو.

## د کار ملي کانفرانس د ژمنو د تعقیب په موخه د صنعت او سوداګرۍ وزارت له وزیر سره د همغږۍ ناسته وشوه

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د کار چارو معین الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي د کار ملي کانفرانس د ژمنو د تعقیب په موخه، د صنعت او سوداګرۍ وزارت له وزیر الحاج نورالدین عزیزي سره وکتل.
کتنه کې د کار چارو معین په خپله وینا کې د دې ترڅنګ، په مختلفو برخو کې د یاد وزارت هڅې وستایلې او څرګنده یې کړه: چې د کار ملي کانفرانس یو له عمده موخو څخه په راتلونکو پنځو کلونو کې نږدې یو نیم میلیون هېوادوالو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کاري زمینو برابرول چې په کې د صنعت او سوداګرۍ وزارت هم شاوخوا ۵۵۰ زره تنو ته د کارموندنې ژمنه کړې ده او غواړو له ټولو ادارو سره د ترسره شویو هوکړه لیکونو مطابق، د کانفرانس له پای ته رسېدو وروسته د بشري ځواک په استخدام کې د هغوی د اجراآتو څخه ډاډ ترلاسه او خپلو ولسونو ته معلومات ورکړو، چې په دې موده کې کوم شمېر هېوادوالو ته په کومو برخو کې د کار زمینه برابره شوې ده.
وروسته د صنعت او سوداګرۍ وزارت وزیر په خپلو خبرو کې څرګنده کړه: په هېواد کې بشپړ امنیت ټینګ او په مختلفو برخو کې مثبتې او د پام وړ لاسته‌راوړنې موجودې دي، خو فقر او بېکاري د خلکو له بنسټي ستونزو څخه دي، چې باید ټول په مشترک ډول خپل مسؤلیتونه ترسره او فعالیتونه ګړندي کړو، ترڅو په دې برخو کې هم پرمختګونه پراخ شي. الحاج عزیزي د خپلو خبرو په دوام وویل: له نېکمرغه په زرګونو جریبه ځمکه په مختلفو برخو کې د پانګونې په موخه ځانګړې شوې او د وېش د څرنګوالي میکانېزم یې هم چمتو شوی دی، چې ګڼ شمېر خلکو ته به د کار زمینې برابرې او هم به په اقتصادي برخه کې ستر بدلون رامنځته کړي. همدارا یې څرګنده کړه، چې د کار په ملي کانفرانس کې د ترسره شوې ژمنې د عملي کېدو لپاره اقدام شوی او په دې اړه به لازم معلومات د کار او ټولنیزو چارو وزارت سره شریک شي.
په پای کې دواړو لوریو هوکړه وکړه، چې یوه مشترکه تخنیکي کمېټه به رامنځته او په اړوندو برخو کې به له نږدې کار کوي.
د یادولو ده چې د کار او ټولنیزو چارو وزارت د کار په ملي کانفرانس کې له ۱۵ ادارو سره هوکړه لیکونه لاسلیک کړي او اوس غواړي چې یادې ژمنې تعقیب کړي، چې پیل یې د صنعت او سوداګرۍ له وزارت څخه وو او دا لړۍ به دوام ومومي.

## بېرته راستنېدونکو هېوادوالو ته د کارموندنې په موخه په همغږۍ ټینګار وشو

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د کار چارو معین مولوي محمد زاهد احمدزي له ځینو همکارو مؤسساتو سره په ناسته کې بېرته راستنېدونکو هېوادوالو ته د کاري فرصتونو د برابرولو په برخه کې په همغږۍ ټینګار وکړ.
ناسته کې د موضوع په اړه بحثونه ترسره او په ډاګه شوه، چې په دې برخه کې فعال مؤسسات دې د اړوندو ادارو سره په همغږۍ خپلې چارې تنظیم او هڅه دې وکړي، چې د وظیفوي تداخل څخه ډډه وشي. له بل پلوه دی پروژې په هغو سیمو کې تطبیق شي، چې هلته یې اړتیا موجوده وي، ترڅو هغو هېوادوالو ته چې بېرته هېواد ته را ستنېږي، په خپل وخت اړین خدمات وړاندې او هم د کارموندنې په برخه کې یې ملاتړ وشي.




# په ۱۴۰۳هـ.ش کال کې د هرات ولایت د کار او ټولنیزو چارو ریاست د فعالیتونو، کړنو او عمده لاسته راوړنو راپور:

**۱. د روزنتونونو د چارو آمریت عمده فعالیتونه**

• په حوزوي روغتون او د افغاني سرې میاشتې روغتیایي مرکز ته د درملنې په موخه د روزنتون د ۱۰۰ تنو زده‌کوونکو ورپېژندل.

• د همکارې مؤسسې په مرسته د ۵۰ تنو هغو زده‌کوونکو درملنه چې د جلدي ناروغۍ څخه رنځېدل.

• د همکارو مؤسساتو په مرسته د روزنتونو هلکانو او انجونو زده‌کوونکو ته د کار او ټولنیزو چارو وزارت له‌خوا د منظور شوي تعلیمي نصاب د کتابونو پېرل.

• زده‌کوونکو ته د ۷۰۰ جوړو نویو جامو برابرول.

• د خیاطۍ له شپږ میاشتنۍ حرفې څخه د روزنتون د ۱۳ تنو زده‌کوونکو فراغت او د اوسا همکارې مؤسسې په ملاتړ پر هغوی د کارې وسایلو وېشل.

• د هلکانو او انجونو روزنتون ته د ۷۲ تنه ماشومان جذبول او له خپلو کورنیو سره د ۱۱ تنه ماشومانو یوځای کېدل.

• د روزنتون ماشومانو ته د ۳٦ قلمه درملو او حفظ الصحې توکو د مرستې جذبول.

• د همکارو مؤسساتو په مرسته د روزنتون په زده‌کوونکو د ٦۵۰ ژمنیو او روغتیایي بکسو او د ښوونځې د بیکونو وېشل.

• د ژمنیو تقویتي ټولګیو( قرآن‌کریم، سواد زده‌کړې، کمپیوټر، انګریزۍ ژبې او د ویاندویي فن) تطبیق او د مجهز کتابتون او کمپیوټر لب فعالول.

• د خیر خواه اشخاصو په مرسته ۲۵۰ تنو ماشومانو ته د ښوونځې د جامو برابرول.

**۲. د ټولنیزو چارو د آمریت عمده فعالیتونه:**

• د زیانمنو ډلو ستونزو ته د رسېدنې په موخه د ټولنیز خوندیتوب سکتور د ناستې ترسره کېدل، د ناستې د راپور چمتو کول او د

وزارت له مقام او د غړو له ادارو سره يې شريکول.
• له قانون څخه د متخلفو ماشومانو قضيو ته د رسېدنې په موخه د ۹ اړخيز هوکړه‌ليک د ناستې ترسره کېدل.
• ۲۸۵۴ اړمنو کورنيو سره د خوراکي او غير خوراکي توکو د مرستو ترسره کېدل.
• د ژمي په موسم کې پر ۱۳۰۰ بېوزلو کورنيو د سون توکو وېشل.
• د درملنې په موخه خيريه بنسټونو او همکارو مؤسساتو ته د ۱۵۲ تنو ناروغانو ورپېژندل.
• د خوراکي توکو د ورکړې په موخه خيريه بنسټونو او همکارو مؤسساتو ته د ۸۰ تنو اړمنو هېوادوالو ورپېژندل.
• له خپلو کورنيو سره د ۴۶۷ تنه رد مرز شويو، جلا شويو او د روزنتونونو د ماشومانو يوځای کېدل.
• روزنتون کې د شموليت په موخه د ۹۰ تنو په شرايطو برابرو ماشومانو د اسنادو او فورمو طی مراحل کول.
• اړونده محکمې ته د پرېکړې په موخه د ۴ هغو کورنيو د ژوندانه د وضعيت څېړل، چې غوارې ماشومان په سرپرستۍ واخلي.
• د زيانمنو او اړمنو ماشومانو وضعيت ته د رسېدنې په موخه، د ماشومانو د ملاتړ او ساتنې کمېټې د مياشتينۍ ناستې ترسره کېدل.
• د هرات ولايت د خصوصي روغتيايي مرکزونو له لارې په وړيا توګه د ۸۵۲ تنو يتيمو، اړمنو او زيانمنو نارغو ماشومانو درملنه.
• د درملنې په موخه د هرات ولايت د عامې روغتيا او د افغاني سرې مياشتې رياستونو ته د غوږونو، د زړه او هډوکو د ناروغيو درلودونکو ۱۹ تنو ماشومانو ورپېژندل.
• د هرات ولايت په مرکز او ولسواليو کې د ماشومانو د حقوقو او د دوی د ساتنې اړوندو موارډو په اړه ۳۱۰۸۹ تنو علمای کرامو، د ماشومانو د کورنيو غړو او د ټولنې بانفوذه اشخاصو ته د عامه پوهاوي ورکول.
• د ۲۴ سوالګرو ماشومانو د کورنيو د سروې په پروسه کې برخه اخيستل.
• د هرات ولايت د ماشومانو د ملاتړ او ساتنې کمېټې ۲۵ غړو ته په اړوندو برخو کې د دوه ورځنۍ ښوونېزې برنامې په لار اچول.
• يوه خصوصي ښوونيز مرکز ته په وړيا توګه د زده‌کړو په موخه
• د ٦٣ تنو يتيمو، اړمنو او زيانمنو ماشومانو ورپېژندل.
• د اړوندو امارتي ادارو له لوري د ۱۲۳ تنو معرفي شويو بې‌سرپرسته مېرمنو جذب او هغوی ته د خوندي چاپېريال برابرول او د خدماتو ترسره کول.
• په روغتيايي مرکزونو کې د ناروغو مېرمنو درملنه او هغوی ته د روغتيايي خدمتونو وړاندې کول.
• د کوچنيو سوداګريزو فعاليتونو د رامنځته کولو په موخه ۲۰ تنو مېرمنو ته د ښوونيزې برنامې په لار اچول.
• په حمايوي مرکز کې مېشتو مېرمنو ته د ديني برنامو برابرول.
• د اقتصادي ځان بسياينې په موخه مېرمنو ته د خياطۍ حرفې د زده‌کړو ورکول او هغوی ته د لومړنيو روغتيايي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د روغتيايي مرکز پرانيستل.
مېرمنو ته د رواني، ټولنيزو او حقوقي مشورو وړاندې کول.

**۳. د کار چارو د آمريت عمده فعاليتونه:**

• ٦۴۸۱ کورنيو او ۵۰ بهرنيو وګړو ته د کار جوازونو وېشل او ورڅخه راټول شوي عوايد يې امارتي بانکي حساب ته لېږل.
• د دې رياست د کارمونډنې چينل له لارې د امارتي او خصوصي بنسټونو د شاوخوا ۱۰۰۰ تشو بستونو اعلان ته سپارل او په امارتي او غير امارتي ادارو کې د کار اړوند تقنيني اسنادو له تطبيق څخه نظارت او څارنه.

**٤. د فني او حرفوي زده‌کړو د مرکزونو د عمومي مديريت عمده فعاليتونه:**

• د کار او ټولنيزو چارو رياست اړوندو د فني او حرفوي زده‌کړو له مرکزونو څخه په مختلفو حرفو کې د ۴۲۹ تنو او د همکارو مؤسساتو له مرکزونو څخه د ۴۹۰ تنو ځوانانو فراغت او پر ۳۵۰ تنو فارغو شويو اشخاصو د کاري وسايلو وېشل.
• د همکارې مؤسسې په مرسته په کهسان ولسوالۍ کې ۱۰۰ تنو مستحقو افرادو ته د غاليو اوبدلو حرفې د وسايلو او توکو وېشل.

# د کار او ټولنیزو چارو وزارت ارتباطي چینلونه

## د مطبوعاتو ریاست

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د مطبوعاتو ریاست د دې وزارت د فعالیتونو او لاسته راوړنو د رسنیز کولو مسؤلیت لري. دا برخه دنده لري، چې په مستقیم ډول د ټولنیزو پاڼو؛ فیسبوک، ایکس، ویب پاڼې، مجلې او همدارنګه د چاپي، تصویري او غږیزو رسنیو له لارې د دې اداري د کار او ټولنې اړوند فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه پراخ او کره اطلاعاتو وړاندې کړي. د دې اداري د مطبوعاتو دفتر دنده لري، چې خبري آژانسونو، خبریالانو او نورو اتباعو ته چې اطلاعاتو ته اړتیا ولري، معلومات چمتو کړي. هغه لارې، چې د دې ډول اطلاعاتو د شریکولو لپاره کارول کېږي، عبارت دي له: مطبوعاتي بیانیې، اعلامیې، مطبوعاتي کانفرانسونه، له بهرنیو رسنیو سره اړیکې او د معلوماتو شریکول او همدارنګه د کار او ټولنیزو چارو وزارت، د ټولنیزو رسنیو په رسمي پاڼو کې یې خپرېدل دي.

### د ټولنیزو رسنیو رسمي پاڼې

د کار او ټولنیزو چارو وزارت، د ټولنیزو رسنیو رسمي پاڼې له فیسبوک او ایکس پاڼو، وټس‌آپ ګروپ او د یوټیوب چینل څخه عبارت دي. دا حسابونه د اړتیا وړ اطلاعاتو د لېږد د اصلي وسایلو په توګه عمل کوي.




### فیسبوک پاڼه:

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د رسنیو برخه یوه رسمي او تائید شوې فیسبوک پاڼه لري، چې د (۲۲۲۰۰۰) زره تنو څارونکو او (۱۹۹۰۰۰) خوښوونکو په درلودلو سره او د اطلاعاتو د شریکولو په برخه کې یوازینۍ د باور وړ سرچینه ده.

**molsa_gov_af**




### د کار او اجتماع مجله:

دا مجله په دري میاشتنۍ ډول چاپېږي. د کار او اجتماع مجله د کتاب لوستنې کلتور په ترویج کې هم مهمه ونډه لري. دا مجله په حقیقت کې د هغو ټولو فعالیتونو او لاسته راوړنو روایت کوونکې ده، چې په جزیاتو او مستند ډول د دې اداري اړوند د کره اطلاعاتو سرچینه ګڼل کېږي.

**publication@molsa.gov.af**




### ایکس پاڼه:

د کار او ټولنیزو چارو وزارت رسمي ایکس پاڼه، د حیاتي اطلاعاتو یوه بله سرچینه بلل کېږي، چې د دې اداري اړوند خبرونه پکې په رسمي، انګلیسي او عربي ژبو خپرېږي. په اوس وخت کې دا پاڼه (۴۴۲۰۰) تنو څارونکي لري، چې دا لړۍ مخ پر

**molsa_gov_af**




### ویب پاڼه:

د دې وزارت د اطلاعاتو بانک ګڼل کېږي، چې په مسلکي ډول طرحه شوې خبرونه، راپورونه، روایتونه، پېښې، مرکې او مستندونه په ملي او نړیوالو ژبو پکې خپرېږي.

**www.molsa.gov.af**

بسم الله الرحمن الرحيم

## د امیر المؤمنین مولوي هبةالله اخندزاده حفظه الله تعالی د ۵۹۲٤/۷۹۱ شمېرې حکم

د کار او ټولنیزو چارو وزارت ته!

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته!

صحت او عافیت مو الله جل جلاله په نصیب کړه!

وبعد: د اسلامي امارت د معلولو مجاهدینو د استوګنې لپاره د دفاع وزارت سره په هماهنګۍ په ټولو ولایتونو کې ځایونه پیدا کړئ، همدارنګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې سره په هماهنګۍ ټولو معلولو مجاهدینو ته د دوی د استعداد سره سم د حرفوي او اداري زده کړو زمینه مساعده کړئ، ترڅو وکولای شي په راتلونکي کې خپله نفقه په خپله برابره کړي او له احتیاجه ووځي.

والسلام علیکم ورحمة الله و برکاته!

امیرالمؤمنین شیخ‌القرآن و الحدیث

مولوي هبةالله اخندزاده حفظه الله تعالی

درنو هېوادوالو!
که ماشوم مو ورک شوی وي یا د بل چا ورک ماشوم مو پیداکړی وي؛ ستونزې ته د رسېدنې په موخه د کار او ټولنیزو چارو وزارت ته مراجعه وکړئ!

د اړیکو شمېرې: ۰۷۴۴۴۸۶۳۹۹- ۰۷۴۴۰۵۰۶۰۰



**KAAR WA IJTEMA**

Quarterly Journal of
The Ministry of Labor and Social Affairs
29th:Volume
2025 Spring